

# یوځای لوبه وکړئ

د شریکولو زده کول، نوبت ورکول او اخیستل، خبرې کول، آرام اوسېدل او له نورو سره ملګري کېدل د ژوند اوږد مهاله مهارتونه دي خو په زده کړې کې یې وخت لګي! تاسو کولی شئ له خپل ماشوم په ګډه لوبو سره یا د ملګرو یا د کورنۍ له غړو سره د لوبې وخت ترتیب کولو سره، یا په شخصي توګه یا د FaceTime یا WhatsApp له لارې، دا مهم مهارتونه زده کولو کې مرسته وکړئ.


## د ستورو مشوره

ټول ماشومان مختلف وي! ځینې یې د نورو په پرتله زیات خوش طبیعته او ځان باوري وي - یو بل سره یې پرتله مه کوئ او اندېښنه هم مه کوئ - تاسو خپل ماشوم ښه پېژنئ نو دوی ته هغه ملاتړ او هڅونه ورکولې شئ چې دوی ورته اړتیا لري.

ایا تاسو خبر یاست دا چې د نورو سره لوبې کول د ماشومانو د شخصي، ټولنیز او احساساتي ودې لپاره مهم دي؟ تاسو د خپل ماشوم لپاره د لوبو یو ښه ملګری جوړېدې شئ. بس د دوی د علاقې فعالیتونه تعقیب کړئ!

ماشومان په ګڼ شمېر مختلفو طریقو لوبې کوي:

- یواځې لوبې کوي
- نورو ماشومانو لوبو ته ګوري
- د نورو سره لوبې کوي؛ ورته فعالیت کوي خو د نورو څخه جلا يې کوي
- د نورو په لوبو کې لېوالتیا ښيي او په اړه یې ورسره خبرې پیلوي
- یوځای لوبې کول، معمولا په کوچنۍ ډله کې





## د ستورو مشوره

خپل ماشوم وهڅوئ او ډاډ ورکړئ چې په ځان باور ومومي په داسې حال کې چې دوی خپل ملګري جوړول پیلوي.